
הללו אל בקדשו
زبور
سنه ۱۸۹۰ ع
در مطبع ناپیس طبع شد والدگیت حل لندن

Zpas
891

# زبور

## اول کتاب

### اول

١ مبارک هغه سړي دي چه د شريرانو
په صلاح نه ځي
او د خطاکارانو په لار نه ودريږي
او د توقمارانو په مجلس کښ نه کښيني
٢ مګر د يهوه په تورێت کښ د هغه
بنادي ده
او ورځ او شپه د ده په تورێت کښ
هغه فکر کوي
٣ نو هغه به د هغي وني په شان وي
چه د اوبو په ولو باندِ لګولي وي
چه په خپل وقت سره ميوه نسي
پانړي ئې هم نه رژيږي
او هر کار چه کوي هغه به تر سره کيږي
۴ شريران داسي نه دي
بلکه د بوسو په شان دي چه باد ئې وړي
٥ نو له دي سبب به شريران په عدالت
کښ و نه دريږي
او خطاکاران به د صادقانو په ټولي کښ
٦ ځکه چه يهوه د صادقانو لار پيژني
ليکن د شريرانو لار به د هلاکيدو وي

### دويم

١ ولي قومونه جګړي کوي ؟
او خلق باطل فکرونه کوي
٢ د زمکي بادشاهان په مخالفت پورته کيږي
او سرداران په کور کښ سره مصلحت کوي
په يهوه او په ممسوح د ده (وايي)
٣ راشئ مونږ به د هغو بندونه پريکړو
او د هغو پړي به له خپلو ځانونو نه وغورځوو
۴ هغه چه په آسمانونو کښ کښيني
و به خاندي
خداوند به د هغو پيښي وکړي
٥ پس دي به له هغو سره په قهر خبري وکړي
او په خپل غضب سره به ئې وډروي
٦ ما خپل بادشاه مقرّر کړي دي
په خپل پاک غره د صيحون
٧ زه به دا حکم ظاهر کړم
يهوه ما ته ويلي دي چه ته ځما زوي ئې
نن ورځ ما ته پيدا کړي
٨ له ما نه وغواړه او زه به د وراثت د پاره

PSALMS IN PASHTU.

TRANSLATED BY THE REV[DS.] WORTHINGTON JUKES, M.A.; and T. J. L. MAYER,
WITH THE ASSISTANCE OF MULLAH HAMIDULLAH.

THE BRITISH AND FOREIGN BIBLE SOCIETY.
LONDON.

—

1891.